مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید

۲۰۲۶/۱۰/۰۴

# د افغانستان او پاکستان ترمنځ د شخړو نیابتي بڼه

په نورستان کې د وسلوال نفوذ هڅه د افغانستان او پاکستان ترمنځ په روان امنیتي تقابل کې نوې بڼه څرګندوي. د افغانستان د دفاع وزارت د معلوماتو له مخې، یوه لویه وسلواله ډله د ډیورنډ کرښې له هغې غاړې څخه د نورستان کامدېش ولسوالي ته اوښتي او هڅه یې کړې چې په سیمه کې خپل حضور ټینګ کړي. افغان ځواکونو د دغې ډلې له دوو درجنونو څخه ډېر کسان وژلي، لسګونه نور یې نیولي او د پام وړ وسلې یې ورڅخه ترلاسه کړې دي. افغان چارواکو ویلي چې په ډله کې د اسلامي دولت له شبکې سره تړلي کسان او د افغانستان د پخوانیو امنیتي ځواکونو ځینې غړي هم شامل وو چې له هېواد څخه بهر استخدام او روزل شوي وو.

د دغې ډلې تنظیمونکي، د ګډون کوونکو سابقه او د هغوی د تګ راتګ خرنګوالی مهمې پوښتنې رامنځته کوي. که له پاکستاني خاورې څخه د استخدام، روزنې او انتقال راپورونه په شواهدو ثابت شي، نو موضوع به له یوې عادي امنیتي پېښې څخه پراخه اړخونه پیدا کړي.

دغه پېښه تاریخي اړخ هم لري. پاکستان په بېلابېلو پړاوونو کې د افغانستان له هغو وسلوالو ډلو سره اړیکي درلودلي او ملاتړ یې کړی دی چې د کابل د حکومتونو پر وړاندې په وسلوال مخالفت کې قرار لري، په داسې حال کې چې له واکمنو خواوو سره یې اړیکي په بل ډول تنظیم شوي دي. د نورستان په پېښه کې د ښکېلو ډلو د شالید په اړه هم داسې راپورونه شته چې له پاکستان سره یې اړیکي په بېلابېلو پړاوونو کې د همکارۍ، مخالفت او بیا همکارۍ بڼه خپله کړې ده. له نښو نښانو څخه ښکاري چې د نورستان پېښه د پاکستان د ستراتیژیک عمق له هغې تګلارې سره تړاو ښيئ چې له افغان وسلوالو مخالفینو څخه د افغان واکمنو په وړاندې د خپلو امنیتي او سیاسي موخو لپاره ګټه اخلي.

نورستان ته د را استول شوې ډلې د ناکامۍ تر شا څو عوامل لیدل کېږي. د افغان ځواکونو چټک غبرګون، له سختې غرنۍ جغرافیې سره د بریدکوونکو نابلدتیا او د عملیاتو د پلان احتمالي نیمګړتیاوو موخو ته د هغوی د رسېدو مخه ونیوله. دغه پایله د پېښې تر شا د استخباراتي شبکې او تنظیمونکو په تړاو پوښتنه نه ختموي؛ بلکې د هغې د دقیقې څېړنې اړتیا زیاتوي.

نیول شوي کسان، وسلې، مخابراتي وسایل او اسناد کولای شي د دغو عملیاتو د جوړښت په اړه مهم معلومات وړاندې کړي. د هغوی هویت، پخوانۍ اړیکې، د استخدام او روزنې څرنګوالی، د تګ راتګ لارې، مالي اړیکي او تنظیمي تړاوونه باید د یوې واحدې څېړنې په ترڅ کې وڅېړل شي. د دغو موندنو پرتله له پخوانیو ورته پېښو سره کولای شي څرګنده کړي چې نورستان پېښه تازه نوښت وه او که د کومې پراخې شبکې برخه.

د نورستان جغرافیه د دغې موضوع اهمیت لا زیاتوي. د سیمې غرنۍ جوړښت د څارنې او چټک غبرګون چارې ستونځمنوي او د ډیورنډ کرښې ته نږدېوالی یې د وسلوالو د پټ تګ راتګ لپاره احتمالي لارې رامنځته کوي. که دغه لارې د راتلونکو جنګي کړنو لپاره بیا وکارول شي، سیمه به یو ځل بیا د پخوا په څېر د اوږدمهاله امنیتي فشار له خطر سره مخ شي. له همدې امله، له دغې پېښې څخه یوه مهمه زده کړه باید د هغو لارو او عملیاتي تشو پېژندل وي چې د ورته جنګي نفوذ لپاره کارېدلای شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څېر و لولئ

اوسنی جیوپولیتیک وضعیت د افغانستان یوه بله مهمه ستونځه هم څرګندوي. افغانستان د پاکستان په پرتله محدود پوځي ظرفیت لري، په داسې حال کې چې پاکستان د هوايي ځواک او نورو پوځي امکاناتو له لارې د شخړې د پراخولو ډېره وړتیا لري. په دغه ډول نابرابر وضعیت کې د وسلوال نفوذ او متقابلو جنګي شخړو دوام افغانستان ته د امنیتي او بشري زیانونو د زیاتېدو لاره هواروي. له همدې امله، د افغانستان لپاره د هرې پېښې په وړاندې یوازې پوځي اقدام نه، بلکې د ډيپلوماسي په کارولو د داسې تصادم د پراخېدو مخنیوی هم دی چې لګښت یې د افغانستان لپاره ډېر دروند تمامېدای شي.

د پاکستان د ستراتېژیک عمق تګلاره او د افغانستان د کورنیو مخالفتونو او اداري کمزورتیاو ګډ تعامل داسې ستونځه رامنځته کولای شي چې پاکستان او وسلوال مخالفین د استخدام، پټېدو او لوژستیکي ملاتړ لپاره ورځخه ګټه پورته کړای شي. له همدې امله، د بهرني نفوذ مخنیوی یوازې د ډیورنډ کرښې د خارني مسئله نه ده؛ د افغانستان د کورنیو نیمګړتیاو او د هغو تشو د کمولو مسئله هم ده چې د بهرني لاسوهنې لپاره لاره هواروي.

د پېښې بل مهم اړخ د پاکستان هغه یو اړخیز استدلال دی چې له افغانستان څخه غواړي خپله خاوره د پاکستان پر وړاندې د وسلوالو فعالیتونو لپاره ونه کاروي. افغانستان له خپلې خاورې څخه د هر ډول بهرني امنیتي ګواښ د مخنیوي مسؤولیت لري؛ خو همدغه اصل باید متقابل ارزښت او دوه اړخیز مسئولیت وي. د پاکستان خاوره هم باید د افغانستان پر وړاندې د وسلوالو ډلو د روزنې، تجهیز، تنظیم او افغانستان ته د لېږلو لپاره ونه کارول شي. د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور ور امنیتي تعامل هغه مهال لوړ ارزښت پیدا کوي چې د دغه اصل په وړاندې دواړه خواوې مسئولیت په غاړه واخلي.

بناً د نورستان له پېښې څخه ترلاسه کېدونکي شواهد یوازې د پوځي عملیاتو د ارزونې لپاره نه، بلکې د ډیپلوماتیک دریز پیاوړي کولو لپاره هم اهمیت لري. نیول شوي کسان، وسلې، مخابراتي وسایل او نور اسناد باید په مسلکي ډول ثبت او د امکان په صورت کې په خپلواک ډول وارزول شي. د څېړنې پایلې یې باید له اړوندو سیمه ییزو او نړیوالو خواوو سره شریک شي. په دغه ډول به د افغانستان دریز یوازې د تورونو په لګولو نه، بلکې په مشخصو شواهدو ولاړ وي.

د نورستان د پېښې په هکله اصلي پوښتنه دا نه ده چې څومره کسان په عملیاتو کې شامل وو او افغان ځواکونو څنګه هغوی ودرول. مهمه پوښتنه دا ده چې ایا د ډیورنډ کرښې له هغې غاړې څخه د پاکستان د نیابتي ډلو لخوا د نفوذ هڅې په یوه تکرارېدونکي امنیتي میکانیزم بدلېدلای شي. که د وسلوالو ډلو را استول د پاکستان له هوايي بریدونو سره هممهاله شي، شخړه به د مشخصو وسلوالو ډلو له موضوع څخه د نا انډوله متقابل تصادم پر لور ولاړه شي او افغانستان به نسبتاً زیات زیان وویني.

د نورستان پېښه تر اوسه د یوې ناکامې وسلوالې هڅې په توګه پای ته رسېدلې، خو د هغې اصلي اهمیت به د راتلونکو موندنو او احتمالي تکرار له مخې څرګندېږي. که د عملیاتو تر شا د پاکستان ملاتړ ، روزنه او اسانتیاوې په مستندو شواهدو ثابتې شي، نو دا به د افغانستان او پاکستان په امنیتي تقابل کې د ستراتېژیک ژوروالي د اوږدمهالي تګلارې نوې بېلګه وي او جدي پوښتنه به راپورته کړي. افغانستان ته اړینه ده چې د پېښې په تړاو له سملاسي امنیتي بریا څخه د اوږدمهاله امنیتي درس په توګه ګټه پورته کړي او سیمه‌ییزه نفوذي هڅه په پراخ امنیتي ګواښ او کورني بحران بدله نه شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ